محمد معصوم هوتک
۲۰۱۸/۰۴/۱۲

# د استاد حبيب الله جاج پښتونزوی د مړيني په مناسبت

بيا نازل سو پر پښتون د غم سورسات
بيا لښکر سو د مرگي باندي رامات
نن بيا بله بگړی ولوېده له سره
مرگي واخيست له ژوندونه بيا کسات
د ادب د لارويانو له ټوليه
يو بل دروند تن سو کنډو افسوس هيهات
له تدريسه چي موندلی ډېرو فيض وو
زه ئې هم په شاگردی کړم مباهات
ټول کړه وړه، فکر و عمل ئې د پښتون وو
وقف کړی ئې وو پوهي ته حيات
زمانه راته له ښمه سره و شنه ده
ته وا زړه ئې نه سړيږي په ممات
و تاريخ ته ئې د مړيني وم چورت وړی
په دې فرد کې ځان ځرگند کړ په اثبات
زړه د "وير" دوه واره ولوېد"اه" ئې وخوت
"پښتونزوی حبيب الله جاج سو وفات"

---

حل: وروستی مصرع تاريخي ماده ده چي ابجدي ارزښت ئې ۱۴۲۳ کېږي. د (وير) زړه (ی) دئ چي دوه واره سي (۲۰) لاس ته راځي. د (اه) ارزښت (۶) دئ. دواړه (۲۶) کېږي. دغه عدد چي د (ولوېد) او (وخوت) په قرينه له (۱۴۲۳) څخه منفي سي، ۱۳۹۷ پاتېږي او دا د ارواښاد حبيب الله جاج پښتونزوی د وفات کال دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ